مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

۲۰۲۱/۰۱/۰۷

لیکوال: شتیفان څوایګ
ژباړن: ډاکټر محمدآجان مرزئ

# د شطرنج کیسه

## پنځمه او وروستۍ برخه

خو زما کنجکاوي بریالۍ شوه. لیمې مې غلې او په احتیاط پرانیستلې. حېران شوم. زه په یوه بله کوټه کې پروت وم چې زما د هوټل د کوټې په پرتله لویه او پراخه وه. یوه کړکۍ، چې پنجره یې نه لرله، کوټه روښنانه کړې وه او سړې کولاۍ شول، د اور ساتنې د دېوال پر ځای، ونو ته وګورې، شنو ونو ته چې له باد سره ښورېدلې. زما پر سر سپین چت ولاړ و - زه په یوه نوې، په یوه پردۍ بستره کې پروت وم، او خوب مې هم نه لیدو، زما ترشا انسانان غلې پسېدل. ما به له حېرانتیا په غېرارادي توګه سخته جټکه خوړلې وي، ځکه چې په دې شېبه کې مې له شا د ګامونو د رانږدې کېدو غږ واورېد. یوه نرم اندام لرونکې ښځه رانږدې شوه، یوه ښځه چې سپینه خولۍ یې پرسر وه، یوه پرستاره، یوه نرسه. په وجود کې مې د خوشحالۍ ولولې رامنځته شولې. ما له یوه کال راپدې خوا کومه ښځه نه وه لیدلې. زه دې ظریفې ښې ته ځیر شوم. ښایي چې دا به د وحشي جذبې یوه کتنه یوه، ځکه چې دې مېرمنې چې رانږدې کېدله، په آراموونکې توګه راته ووېل <آرام! آرامه اوسئ!> خو ما یوازې د هغې غږ ته غوږ نیولی و - آیا دا د یوه انسان غږ نه و؟ آیا په نړۍ کې یو انسان موجود و چې له ما تحقیق ونکړي، ما شکنجه نکړي؟ او د دې ترځنګه دا باور نه کوونکې معجزه - یو نرم، یو تقریباً ظریف ښځینه غږ. زه په حریصه توګه د هغې خولې ته ځیر وم، ځکه چې د دې جهنمي یوه کال په ترڅ کې مې دا باور له لاسه ورکړی و چې یو انسان به له بل انسان سره په مهربانه توګه خبرې وکړای شي. هغه ماته مسکه شوه، هو ماته مسکه شوه، لا هم انسانان موجود وو چې په مهربانه توګه یې د مسکا توان درلود. له هغې وروسته یې د خبردارۍ په توګه ګوته پر شونډو کېښودله او غلې مخکې لاړه. خو ما نشو کولای د هغې امر ومنم. ما لا تراوسه دا معجزه په پوره اندازه نه وه لیدلې. زیار مې وه ایست چې په زور په بسترې کې راواوچت شم، ترڅو پر هغې پسې وګورم، دې انساني معجزې پسې وګورم چې مهربانه وه. خو کله مې چې غوښتل ځان د بسترې پر څنډه راواوچت کړم، دا کار مې ونشو کړای. په هغه ځای کې مې چې باېد ښې لاس، ګوتې او د لاس بند پراته وای، یو پردی شی احساس کړ ، یو پنډ، لوی او سپین بنډل. داسې ښکارېدل چې دا یو لوی بنداژ و. په لومړي سر کې مې پر لاس دې سپین، پنډ او پردي شي ته په ناباوره توګه وکتل. له هغې وروسته، ورو ورو پوه شوم چې چېرې یم او پر ما به څه تېر شوي وي. ښایي چې زه به یې ټپي کړی وم او یا به ما خپل لاس په خپله ټپي کړی وي. زه په یوه روغتون کې وم.
د غرمې له خوا طبیب، یو مهربان زیات عمر لرونکی ښاغلی، راغو. هغه زما له کورنې نوم سره آشنایي لرله او زما له اکا، د قیصر له شخصي طبیب، څخه یې په دومره درناوي یادونه وکړه چې سمدلاسه دا احساس راته پیدا شو چې له ماسره به ښه چلند ولري. د خبرو په نور بهیر کې یې هر ډول پوښتنې راڅخه وکړې، په ځانګړې توګه یوه پوښتنه چې زه یې حېران کړم - دا چې آیا زه کیمیا پوه یم. ما منفي ځواب ورکړ.
هغه له ځانه سره ووېل، <عجیبه ده. تاسو په تبه کې په لوړ غږ عجیب فورمولونه یادول C3، C4. داټول موږ ته ناآشنا وو>.
ما وپوښتل چې پر ما څه تېر شوي دي. هغه په عجیبه توګه مسک شو .
<کومه جدي خبره نه ده. د اعصابو یوه شدیده راپارونه.> او له هغې وروسته چې په احتیاط یې شاته وکتل، په غلي غږ یې زیاته کړه: سړی دا خبره درکولای شي. د مارچ د میاشتې له ۱۳ نېټې راپدې خوا بندي وې، همداسې نده؟ >
ما په سر د هو ځواب ورکړ .
ده له ځانه سره ووېل: <د دې میتودونو په کارونه، دا د حېرانتیا خبره نه ده. تاسو لومړنی تن نه یاست. خو بې غمه اوسئ.>
د هغې راحت بخښونکې طریقې له امله چې دا خبره یې راته وکړه او د مهربانې کتنې له امله یې پوه شوم چې له هغه سره په امان کې وم.
مهربان ډاکټر دوه ورځې وروسته په څرګنده توګه راته وویل چې پر ما څه پېښ شوي وو. ساتونکې په کوټه کې زما چیغې اورېدلې وې، په لومړي سر کې یې سوچ کړی و چې کوم کس زما کوټې ته راننوتلی دی او زه شخړه ورسره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لرم. خو هغه لا په دروازې کې نه و راڅرګند شوی چې ما برغل پرې کړی و او په وحشي توګه مې دا شان چیغې پرې کړې وې: >حرکت وکړه، رسوا سړېه، ډارنه!<، زیار مې ایستلی و چې له ستوني یې ونیسم او بالاخره مې په دومره وحشیانه توګه برېد پرې کړی و چې باېد د مرستې غوښتنې لپاره یې نارې وهلې وای. کله چې یې بیا په لیوني حالت د ډاکټر معاینې ته کش کاږلم، په ناڅاپي توګه مې ځان له هغو خلاص کړی و، په دهلیز کې مې د کړکې خواته دانګلي و، شیشه مې ماته او په دې ترخ کې مې خپل لاس ځبرې کړی و. دلته تر اوسه هم ژور پرار کتلای شئ. ډاکټر راته ووېل چې په روغتون کې مې لومړی شپې د ماغزو په یو ډول تبه کې تېرې کړې خو اوس مې حواس په کامله توګه روښانه دي. او په غلي غږ یې دا هم راته ووېل: >روښانه ده چې دا خبره به ښاغلیو ته وه نه وایم، که نه نو بیا به مو هماغه ځای ته وېسي. پر ما باور ولری. زه به په خپل توان کې هر کار وکړم<.

زه نه پوهېږم چې دې مرستندوی طبیب زما عذاب ورکونکو ته څه ووېل. په هر حالت، ده هغه څه چې غوښتل یې ترلاسه کړل: زما آزادي. ښایي چې هغه به زه د مسئولیت ناوړ تثبت کړی وم او یا ښایې چې نور به د ګیشتاپو لپاره بې اهمېته شوی وم، ځکه چې په دې لړ کې هیټلر بوهمین اشغال کړی و او په دې توګه د هغه لپاره د اتریش قضیه حل شوې وه. نو ما باېد یوازې یوه تعهدنامه لاسلیک کړې وای چې باېد وطن د څوارلسو ورځو په لړ کې خوشې کړم او دا څوارلس ورځې پر اداري کارونو تېرې شوې چې هغه مهال د نړی پخوانیو وګړو له هېواد څخه د وتلو لپاره اړتیا ورته لرله - پوځي سندونه، د پولیس سندونه، د مالیاتو سندونه، ویزه، د روغتیا تصدیقنامه. نو د تېر وخت په اړه د سوچ کولو لپاره مې هیڅ وخت نه درلود. داسې ښکاري چې زموږ په ماغزو کې پټ قوتونه هر څه سمبالوي، هر هغه څه چې د روح لپاره آزارونکي او ګواښوونکي اوسېدلای شي، په خپله بندوي. ځکه چې، کله به مې چې زما د جېل د کوټې په اړه سوچ کول غوښتل، په ماغزو کې به مې څراغ په یوه نه یوه ډول مړ شو. له ډېرو اونیو وروسته، په حقیقت کې دلته په دې بېړۍ کې مې بیا جرأت وموند چې د هغه څه په اړه چې پر ما تېر شوي دي، سوچ وکړم.

او اوس پوهېږی چې ما د تاسو د ملګري په وړاندې ولې دومره ناآرام او ښایي هم د نه پوهیدو وړ چلند وکړو. زه په تصادفي توګه د سګرېټ څکولو کوټې ته راغلم او کله مې چې د تاسو ملګري د شطرنج تختې مخې ته ناست ولېدل په غیرارادي توګه مې له حېرانتیا او بېرې پښې پر ځمکه میخ شولې. ځکه چې ما بالکل هېر کړي وو چې سړی د شطرنج حقیقي تختې مخې ته او له حقیقي دانو سره لوبه کولای شي، هېر کړي مې وو چې په دې لوبه کې دوه انسانان په ژوندۍ توګه د یوه او بل مخې ته ناست وي. ما په حقیقت کې څو دقیقو ته اړتیا لرله ترڅو په یاد راولم، هغه څه چې دې لوبغاړو ترسره کول، په حقیقت کې هماغه لوبه وه چې ما په خپله بې وسۍ کې څو میاشتې زیار باسلو چې د خپل ځان په وړاندې یې ترسره کړم. هغه شفرونه چې ما د خپلو غمجنو تمرینونو په لړ کې کارول د دې پښې لرونکو دانو لپاره یوازې بدیلونه او سمبولونه وو. ماته د حېرانتیا خبره دا وه چې په تخته کې د دې دانو خوځېدل هماغه شان وو چې د خیال په خونه کې مې ترسره کېدل، داسې لکه چې یو ستورۍ پېژندونکی د کاغذ پر سر پر ډېرو پېچلو میتودونو یوه نوې سیاره سنجوي او بیا یې په واقعي توګه په آسمان کې د یوه سپین، روښانه او د پام وړ ستوري په توګه ګوري. تختې ته داسې ځیر وم لکه مقناطیس چې ټینګ نیولی وم، او هلته مې خپله طرحه ولیدله؛ آس، رخ، پاچا، وزیر او پیاده مې د حقیقي دانو په توګه ولیدل، چې له لرګیو جوړ شوي وو. د لوبې د وضعییت د پوهېدلو لپاره مې باېد په غیرارادي توګه د خپلو اعدادو مجرده نړۍ پر خوځېدونکو دانو بدله کړې وای. په تدریجي توګه د دواړو لوبغاړو ترمنځ د دا ډول یوې حقیقي لوبې کتنې کنجکاوۍ، ولکه راباندې وکړه. پر دې مهال شرموونکې خبره رامنځته شوه، دا چې ما د ادب ټول قواعد هېر کړل او په لوبه کې مې لاسوهنه وکړه. خو د تاسو د ملګري دې غلط حرکت د غشي په توګه پر زړه وه ویشتم. دا زما غریضوي عمل وو، یو نا څاپي عمل، داسې لکه چې سړی یو ماشوم چې له کتارې سر ټیټوي، د ژغورنې لپاره راونیسي. ماته د ما د لاسوهنې له امله زما ناسم عمل وروسته څرګند شو.»

ما په بېړه ډاکټر ب. ته داډ ورکړ چې موږ ټول له ده سره د پېژندګلوۍ له دې تصادف څخه څومره خوشحاله یو او له هغې وروسته چې دا کیسه یې راته وکړه، نو ماته به لا زیات په زړه پورې وي چې د سبا لپاره په چټکه توګه برابره شوې سیالۍ کې یې لوبه وګورم. ډاکټر ب. یو ناآرام حرکت ترسره کړو .

«نه، له ما نه زیاته تمه مه لرئ. دا به زما لپاره له یوه آزمایښت پرته بل څه نه وي ... یو آزمایښت، دا چې ... دا چې آیا زه کولای شم د شطرنج یوه لوبه په عادي توګه ترسره کړم، د یوې حقیقي تختې پر سر، له حقیقي دانو سره او د یوه ژوندي سیال په وړاندې ... ځکه تر اوسه هم شک لرم چې آیا په سلهاوو او یا زهاوو هغه لوبې چې ما کړي دي، د شطرنج ریښتنۍ لوبې وې او یا یوازې خیالي شطرنج و، په تبه کې شطرنج، په تبه کې لوبه، په کومه کې چې د خوب لیدنې په شان تل له منځنیو پوړو ټوپ وهل کېږي. هیله مند یم چې تاسو له ما څخه دا تمه ونلرئ چې ځان ته به د شطرنج له اتل او هغه هم له نړېوال اتل سره د سیالۍ جرأت ورکم. هغه څه چې ماته په زړه پوري دي د دې خبرې په ګوته کول دي چې آیا هغه مهال مې، د جېل په کوټه کې د شطرنج لوبه کوله او یا لیونتوب و؟ آیا هغه مهال د کنډو پرڅنډه ولاړ وم او یا له دې پولې هم تېر شوی وم؟ یوازې غواړم پر دې خبره پوه شم، یوازې پر همدې خبره».

په دې شېبه کې د بېړۍ له شا برخې څخه د ماښام ډوډۍ لپاره د زنګ غږ واورېدل شو. موږ باېد ډوډۍ خوړولو ته تللي وای. ډاکټر ب. ټولې خبرې د دوو ساعتونو په لړ کې، له دې لنډیز څخه چې دلته یې تاسو ته وړاندې کوم، په لا زیاته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

بشپړه توګه راته بیان کړې وي. ما له هغه شخه د زړه له کومې مننه وکړه او د خدای په اماني مې وروسره وکړه. خو لا د بېړۍ دهلیز ته نه وم رسېدلی چې ځان یې ورساوه او په څرګنده توګه وارخطا او د ژبې په بندښت یې زیاته کړه:
«یوه بله خبره! ښاغلیو ته په لومړي سر کې وواياست چې زه یوازې یو ځل لوبه کوم، ترڅو چې وروسته بې ادبه ورته ښکاره نشم ... دا باید د پخوانۍ ستونزې لپاره د پای له ټکي پرته بل څه نه وي - یو روستنی جوړجاړی، نه کوم نوی پیل ... زه نه غواړم چې یو ځل بیا هم د لوبې په دې پرشوره تبه اخته شم چې په وحشت او بېره یې رایادوم ... په هر حال ... په هر حال، هغه وخت ډاکټر هم ماته په دې اړه خبرداری راکړ، په څرګند ډول یې خبرداری راکړ. هر څوک چې پر شیدایي جنون اخته شوی وي د تل لپاره د بیا لیونتوب له ګواښ سره مخ وي او ښه به وي چې سړی د شطرنج د تسمم پر مهال، سره له دې چې روغ شوی هم وي، نور د شطرنج تختې ته نږدې نشي ... نو پوهېږئ چې زه به یوازې همدا یوه امتحاني لوبه ترسره کړم او بس.»
موږ د بلې ورځې په ټاکل شوي وخت، له غرمې وروسته په درې بجو، د سګریټ څکولو په کوټه کې سره راغونډ شوي وو. زموږ په ډله کې د دې شاهانه لوبې دوه تنه نور مینه وال هم زیات شوي وو. دا د بېړۍ دوه افسران وو چې د سیالۍ د لیدنې لپاره یې په بېړۍ کې له خدمت نه رخصت اخیستی وو. چیتوویچ هم د تېرې ورځې په شان لوبې ته ناوخته حاضر نشو او دا نه هېرېدونکې لوبه د رنګونو له لازمي ټاکنې وروسته د دې مبهم انسان او نامتو نړېوال اتل ترمنځ پیل شوه. ماته د خپګان خبره ده چې لوبه زموږ په وړاندې ترسره شوه چې یوازې د شطرنج بې کفایته نندارچیان وو او د هغې بهیر د شطرنج د علم لپاره هماغسې ورک پاته شو، لکه د بتهوفن د پیانو بداهه نوازی چې د موسیقۍ لپاره ورکه پاته شوې ده. د بلې ورځې له غرمې وروسته مو زیار وه ایست چې لوبه، ټول سره یوځای، له یاده راژوندۍ کړو، خو دا کار مو بې ګټې و. ښایي چې زموږ ټولو پام به د لوبې په ترڅ کې د لوبې د بهیر پر ځای، په ډېر شور او شوق دواړو لوبغاړو ته اوښتی و، ځکه چې د لوبې په بهیر کې د دواړو خواوو په کړنه او چلند کې رواني تضاد، په زیاتېدونکې توګه په جسماني بڼه څرګندېدو. چینتوویچ، چې له لوبو سره عادت و، ټوله موده د یوې لویې ډبرې په شان نه خوځېدو، سترګې یې د شطرنج تختې ته سختې ځیرې کړې وې؛ داسې ښکارېدل چې تفکر ورته فزیکي سترتیا رامنځته کوله او د بدن له ټولو غړو یې د ډېر زیات تمرکز غوښتنه کوله. برعکس، ډاکټر ب. خپل حرکتونه په ډېر راحت او آرامۍ ترسره کول. بدن یې د یوه ریښتني بوالهوس په شان چې په لوبه کې یوازې له لوبې یعنې له <هوس> خوند اخلي، د کامل استراحت په حالت کې و، د لومړیو وقفو پر مهال یې له موږ سره خبرې کولې او توضیحات یې راکول، په آرام لاس به یې ځانته سګریټ بل کړو او کله به یې چې د حرکت وار راورسېد، په مستقیم ډول به یې یوه دقیقه تختې ته وکتل. هرځل داسې ښکارېدل چې د خپل سیال د حرکت تمه یې له مخکې لرله.
د لوبې الزامي پرانیستونکې لومړني حرکتونه ژر ترسره شول. داسې ښکارېدل چې د اووم یا اتم حرکت پر مهال یو ټاکلی پلان د ودې په حال کې و. چینتوویچ د خپل سوچ وقفې اوږدې کړې. موږ له دې خبرې پوه شولو چې د برلاسۍ د ترلاسه کولو لپاره مبارزه پیل شوې وه. خو که ریښتیا خبره وکړم نو د وضعیت تدریجي وده زموږ په شان اماتورانو لپاره په سیالۍ کې د هرې بلې ریښتیني لوبې په شان ډېر مایوسونکی وه، ځکه هر څومره چې دانې د یوه ځانګړي زیور په شان له یوې او بلې سره تړل کېدلې، په هماغه اندازه د لوبې وضعییت راته ناڅرګندیدلو. نه پوهېدو چې کوم یو کومه موخه لري او کوم یو برلاسی دی. یوازې مو لېدل چې دانې آخوا دا خوا خوځېږي، ترڅو د دښمن جبهه ماته کړي، خو په دې آخوا دا خوا حرکتونو کې په ستراتیژیکه موخه نه پوهېدو، ځکه چې دې تکړه لوبغاړو تل هر خوځښت څو حرکته مخکې ترکیبولو. د دې ترڅنګه، په تدریجي توګه، کمزورې کوونکې سترتیا رامنځته شوه، چې لامل یې د چینتوویچ بې پایه وقفې وې، او په ښکاره توګه یې ورو ورو زموږ ملګری هم ناآرام کړو. ما په ناآرامۍ ولیدل، هرڅومره چې لوبه اوږدېدله، په هماغه اندازه به هغه په څوکۍ کې په ناارامۍ آخوا دا خوا کېدو، کله به یې له اضطراب یو سګریټ په بل پسې بلولو، کله به یې پنسل په لاس کې نیولو ترڅو یو څه یادداشت کړي، بیا به یې اوبه وغوښتلې او په تلوار به یې څښلې. روښانه وه چې هغه خپل حرکتونه د چیتوویچ په پرتله سل ځلې ژر ترکیبولای شول. هر ځل به چې جینتوویچ له زیات سوچ وروسته په خپل درانده لاس د مخ په وړاندې خوځښت پرېکړه وکړه، نو زموږ ملګری به د یو چا په شان مسک شو چې یو څه ګوري چې له زیاته وخته ورته تم و، او سمدلاسه به یې غبرګون ښکاره کړو. هغه به د سیال ټولې شونتیاوې په سر کې، په خپل چټک او فعال ادراک، له پخوا سنجولې وې. له همدې امله، هرڅومره چې د چینتوویچ پرېکړه ځنډول کېدله، په هماغه اندازه د هغه بې صبري زیاتېدله او پر شونډې یې د انتظار په ترڅ کې یوه غوسه ناکه او کابو د دښمنۍ بڼه رامنځته شوه. خو چینتوویچ په هیڅ وجه ځان تر فشار لاندې نه راوستلو. هغه په ضدي او چوپه توګه سوچ کاوه او هرڅومره چې مېدان له دانو خالي کېدو، په هماغه اندازه یې خپلې وقفې هم زیاتولې. موږ د دوه څلوېښتم حرکت پر مهال، له دوه ساعتو او پنځه څلوېښتو دقیقو وروسته، د مسابقې میز شاوخوا ته ستړي او بې پروا ناست وو. د بېړۍ یو افسر لا له دې مخکې تللی و او بل تن یې د یوه کتاب لوستل پیل کړي و او د هر بدلون پر مهال به یې یوه شېبه پورته کتل. خو د چینتوویچ د یوه حرکت پر مهال په ناڅاپه توګه هغه څه پېښ شول چې انتظار یې نه کېدو. کله چې ډاکټر ب. ولیدل چې چینتوویچ پر آس لاس کېښود، ځان یې د پشکې په شان، له ټوپه مخکې راغونډ کړو. ټول وجود یې په لړزېدو شو او چینتوویچ لا د آس حرکت نه و ترسره کړی چې په لوړ غږ یې په بریا ووېل: «ښه! تباه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

شولئ!»، شاته یې تکیه وکړه، لاسونه یې پر سینه راتاو کړل او په ننګونکې توګه یې چینتوویچ ته وکتل. په ناڅاپي توګه یې د سترګو په کسي کې یو ګرم نور په ځلا شو.

موږ په غېرارادي توګه تختې ته ورمخکې شولو، ترڅو ځان پر هغه حرکت پوه کړو چې د پریالیتوب په دومره ولولې اعلام شو. په لومړۍ کتنه کوم ګواښ نه ترسترګو کېدو. داسې ښکارېدل چې زموږ د ملګري څرګندونه د لوبې پر راتلونکو حرکتونو ولاړه وه چې زموږ په شان کم فکره اماتورانو لا نشول سنجولای. زموږ په ډله کې چینتوویچ یوازنی تن و چې ځان یې د ننګونکي له اعلام څخه وروسته نه و ښورولی. پرځای داسې ثابت ناست و، لکه چې د <تباه شولئ!> سپکاوی یې هیڅ نه وي اورېدلی. هیڅ څه پېښ نشول. څرنګه چې موږ ټولو خپله سا بنده ساتلې وه، هغه و چې د ساعت ټک ټک مو واورېد چې د حرکت د وخت د تثبیتولو لپاره پر مېز اېښودل شوی و. درې، اوه، اته دقیقې تېرې شولې، خو جینتوویچ ځان ونه ښوراوه. ماته داسې ښکارېدل چې په وجود کې د ننه هڅ او هاند یې پنډې سپړمې لا نورې هم پنډې کړې دي. دا چوپ انتظار زموږ د ملګري او هم زموږ لپاره د زغملو وړ نه و. زموږ ملګری په یوه چټک خوځښت له خپل ځایه اوچت شو او د سګرټ څکولو په کوټه کې یې آخوا دا خوا ګرځېدل پیل کړل. په لومړي سر کې ورو، او له هغې وروسته په زیاتېدونکې چټکتیا. موږ ټولو په حېرانتیا وروکتل، خو هیڅ څوک زما په شان ناآرام نه و، ځکه چې وه مې لیدل، سره له دې چې سخت ګامونه یې وهل خو هر ځل یې په کوټه کې د ورته واټن مزل کولو؛ داسې لکه چې هر ځل د یوې تشې کوټې په مینځ کې له یوې نالیدونکې المارۍ سره ټکر وخوري او راګرځېدو ته یې اړ کړي. او په وېرجنه توګه پوه شوم چې دې تګ او راتګ په غیرشعوري توګه د هغه د جېل د کوټې حد او اندازه بیا راژوندی کړې ده. هغه به د حبس د میاشتو په لړ کې دقیقاً هم همدا شان، په قفس کې د یوه ځناور په شان، تګ او راتګ کولو، بالکل همدا شان په کلکو نیول شوو لاسونو او ټیټو اوږو؛ همداسې، یوازې همداسې به هلته په زرهاوو ځلې آخوا دا خوا تللی وي، په بې خوځښته، خو له تبې ډکو سترګو کې د لیونتوب له تکو سرو ډېوو سره. خو داسې ښکارېدل چې د فکر وړتیا یې لا سم کار کوي، ځکه چې کله ناکله به یې د مېز خواته کتل چې آیا چینتوویچ په دې لړ کې خپل تصمیم نیولی دی او که نه. خو نهه دقیقې تېرې شولې، لس دقیقې تېرې شولې. بیا هغه څه پېښ شول چې موږ یې تمه نه لرله. چینتوویچ خپل درونډ لاس چې تر دې شېبې بې حرکته پر مېز پروت و، ورو پورته کړو. موږ ټولو په هېجان د خوځښت په اړه د ده پرېکړې ته وکتل. خو چینتوویچ کوم حرکت ترسره نکړو، بلکه د لاس شا یې ټولې دانې په یوه قاطع خوځښت په ډېره آرامۍ له تختې لیرې کړې. موږ په بله شېبه کې پوه شولو چې چینتوویچ تسلیم شوی و. هغه تسلیم شو، ترڅو زموږ په مخ کې په روښانه توګه کشت او مات نشي. ناشونۍ شی شونی شوی و، نړېوال اتل، د بې شمېره سیالیو اتل د یوه ناشناس سړي په وړاندې تسلیم شو چې شل یا پنځ ویشت کاله یې د شطرنج تخته لمس کړې هم نه وه. زموږ ملګري، دې ناشناس سړي، د نړۍ له ټولو تکړه شطرنج باز ته په آزاده سیالۍ کې ماته ورکړه !

موږ له هیجانه، بې له دې چې متوجه شو، یو له بل پسې له خپلو ځایونو رااوچت شولو. هر یوه مو دا احساس درلود چې باېد یو څه ووایو، ترڅو د خپلې ښادۍ اندازه څرګنده کړو. یوازنی سړی چې آرام پاته شو، چیتوویچ و. له یوې مناسبې وقفې وروسته یې خپل سر اوچت کړو او زموږ ملګري ته یې په سخت نظر وکتل اوترینه وه یې پوښتل:

«یوه بله لوبه کول هم غواړئ؟»

ډاکټر ب. زما لپاره په ناآرامه کوونکې لېوالتیا ځواب ورکړ: «هرومرو» او مخکې له دې چې د یوازې یوې لوبې اراده ورپه یاد کړم، سمدلاسه بیا کیناست او پر تختې یې په ډېر تلوار د دانو اېښودل پیل کړل. دانې یې په دومره تلوار راغونډې کړې چې دوه ځلې یې یو پیاده له لړزېدونکو ګوتو پر ځمکه ولوېد. د غیر طبیعي هیجان له امله یې زما شرمناکه ناراحتي پر یو ډول ببره بدله شوه، ځکه چې د داسې یوه چوپ او آرام انسان په وجود کې یو داسې شور او یوه داسې ولوله رامنځته شوی وه. د هغه د خولې په څنډو کې رېږدل زیات شول او ځان یې داسې لړزېدو لکه چې تبه ولري.

ما په غلي غږ ورته وویل: «دا کار مه کوئ! اوس دا کار مه کوئ! د نن ورځې لپاره به بس وي! دا کار د تاسو لپاره ستړونکی دی.»

هغه په غوسه او لوړ غږ وویل: «هه! ستړونکی! ما د دې بېځایه وخت تېروني پرځای اوولس لوبې ترسره کولای شوې! په دې لوبه کې زما لپاره یوازنی سخت کار دا خبره ده چې بیده نشم! ښه نو، لوبه پیل کړئ!»

هغه دا روستی خبرې چینتوویچ ته په سختته او کابو غوسه ناکه لهجه وکړې. چینتوویچ په آرامه او مناسبه توګه وروکتل خو بې خوځښته کتنه یې د یوه سوک په شان ښکارېده. په ناڅاپي توګه د دواړو لوبغاړو ترمنځ یو نوی شی رامنځته شو؛ یوه ګواښمنه تربګني، یوه له جزبې ډکه کرکه. اوس نو دوه ملګري نه وو چې په لوبه کې یې د یوه او بل وړتیا آزمویله، هغوی دوه دښمنان وو چې د یوه او بل د بربادولو قسم یې خوړلی و. چینتوویچ لومړی حرکت له ډېر ځنډ وروسته ترسره کړو، او ماته په روښانه توګه دا احساس راپیدا شو چې دا کار یې په عمدي توګه کولو. داسې ښکارېدل چې د روزل شوي تاکتیک لرونکي په توګه پوهېدلی و چې په خپل ورو حرکتونو خپل سیال ستړی کوي او مغشوشوي یې. په دې توګه یې د ډېر ساده او نورمال پرانیستونکي حرکت لپاره له څلورو دقیقو کم وخت نه کار وانخیست، او په دې حرکت یې په معمولي توګه، د پاچا مخې ته پیاده، دوه خانې مخکې کړو. زموږ ملګري سمدلاسه د خپل پاچا مخکې پیاده د ده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پياده مخې ته وروړاندې کړو. چينتوويچ بياهم ناختمېدونکې او دومره اوږده وقفه وکړه چې د زغملو وړ نه وه؛ داسې لکه چې سړی په آسمان کې لوی پړک وګوري او په لړزان زړه د هغه غورېدو ته تم وي او غورېدل نه رامنځته کېږي. چينتوويچ بې حرکته ناست و. په چوپتيا يې سوچ کاوه، ورو او، ځرنګه چې زما يقين پرې زياتېدو، په شومه توګه ورو؛ خو په دې توګه يې زيات وخت راپه ګوته کړو ترڅو ډاکټر ب. وځېږم. هغه په دې شېبه کې دربم ګيلاس اوبه په چټکتيا وڅښلې. ماته په غيرارادي توګه راپه ياد شول چې هغه د خپل جېل په کوټه کې د سختې تندې په اړه کيسه راته کړې وه. د يوه غيرمعمولي هېجان ټولې نښې او نښانې يې په وجود کې په ښکاره توګه راڅرګندې شوې؛ ما وليدل چې تندې يې لوند شو، پر لاس يې د ټپونو داغ لا نور هم سور او له مخکې لا نور هم رااوچت شو. خو تراوسه يې هم لا پر ځان ولکه لرله. خو کله چې چينتوويچ د ځلورم حرکت پر مهال بياهم په نه ختميدونکي توګه سوچ کول پيل کړل، حوصله يې له لاسه ورکړه او په ناڅاپي توګه يې چينتوويچ ته په غوسه ووېل :
« لوبه وکړئ، که نه!»
جينتوويچ خپل سر په آرامه توګه اوچت کړو: «تر هغې چې زه پوهېږم د هر حرکت لپاره مو پر لسو دقيقو هوکړ کړی دی. زه اصولاً په لنډ وخت لوبه نه کوم».
ډاکټر ب. پر خپله شونډه غاښ ولګاوه؛ ما وليدل، چې د هغه د بوټ تلی تر مېز لاندې په ناآرامه توګه پر ځمکه رپېدلو، او دې خبرې چې د هغه په وجود کې يو مزخرف شی د رامنځته کېدو په حال کې دی، زه هم په زياتېدونکي ډول وارخطا کولم. په ريښتيا هم د اتم حرکت په لړ کې يوه بله پېښه هم رامنځته شوه. ډاکټر ب. چې په زياتيدونکې بې صبرۍ د خپل سيال حرکت ته تم و، ونشو کړای نور پر خپل هيجان حاکم وه اوسي؛ آخوا دا خوا کېدل او په غيرشعوري توګه په ګوتو د مېز کړپول يې پيل کړل. چينتوويچ يوځل بياهم خپل لوی بزګر سر رااوچت کړو.
«هيله کوم، مېز مه کړپوی. دا کار ما اخلالوي او لوبه نشم کولای».
ډاکټر ب. په لنډه توګه وخندل: «ها! سړی دا کتلای شي».
د چينتوويچ تندی سور واوخت او په سخته او تنده لهجه يې وپوښتل، «پر دې خبره څه وېل غواړی؟»
ډاکټر ب. بياهم په لنډه او شريره توګه وخندل: «هيڅ. يوازې داسې ښکاري چې تاسو ډېر وارخطا ياست.»
چينتوويچ چوپ پاتې شو او سر يې ټيټ کړو. خپل بل حرکت يې له اوو دقيقو وروسته ترسره کړو، او لوبه هم په دې تباه کوونکې ورو چټکتيا مخکې تلله. چينتوويچ په زياتيدونکي توګه بېحرکته کېدو؛ بلاخره يې د يوه حرکت په اړه د پرېکړې لپاره د سوچ کولو حداکثر ټاکل شوي وخت کارول پيل کړل او زموږ د ملګري چلند له يوې تر بلې وقفې عجيبه بڼه نيوله. داسې ښکارېدل چې نور يې لوبه هېره کړې او له کوم بل شي سره مشغول دی. له خپل آخوا دا خوا ګام وهلو يې لاس واخيست او پر خپل ځای بې حرکته کيناست. په وحشي او کابو ليونۍ سترګو تشې ته ځير و، له ځانه سره بګنېدلو او د نه پوهيدو وړ کلمې يې وېلې؛ يا په بې حده ترکيبونو کې غرق و، يا دا چې نورې لوبې يې طرح کولې چې دا زما تر ټولو لوی شک و، ځکه چې هرځل به چې چينتوويچ خپل حرکت ترسره کړو نو هغه مو بايد له خپل چرته رابهر کړی وای. بيا به يې نو څو دقيقو ته اړتيا لرله ترڅو بياهم پر وضعييت پوه شي. ماته په زياتيدونکې توګه دا شک پيدا کيدو چې جينتوويچ او نور ټول کسان يې د ليونتوب په دې سړه بڼه کې چې په ناڅاپي توګه پر تاوتريخوالي بدلېدلای شوله، له ډېره وخته هېر کړي دي. او په حقيقت کې د نولسم حرکت په لړ کې کړکيچ رامنځته شو. چينتوويچ لا خپلې ګوتې نه وې ښورولې چې ډاکټر ب. په ناڅاپي توګه، بې له دې چې په سمه توګه تختې ته وګوري خپل فيل درې خانې مخ ته کړو او په دومره لوړ غږ يې نارې کړې چې موږ ټولو جټکه وخوړله :
«کشت! پاچا دې کشت شو»!
موږ د يوه ځانګړي حرکت په تمه سمدلاسه تختې ته وکتل. خو له يوې دقيقې وروسته هغه څه پېښ شول چې له موږ څخه يې يوه هم تمه نه لرله. چينتوويچ خپل سر ډېر ورو رااوچت کړو او د موږ خواته يې يوه او بل ته وکتل، او دا کار يې تر اوسه بل هېڅ وخت نه و کړی. داسې ښکارېدل چې له کوم شي څخه ډېر خوند اخلي، ځکه چې ورو ورو يې پر شونډو يوه خوښه او په روښانه توګه له ملنډو ډکه مسکا راڅرګنده شوه. له هغې وروسته يې چې له خپل دې بريې تر پايه خوند واخيست، چې زموږ لپاره د پوهېدو وړ نه و، مخ په تقلبي حسن نيت زموږ خواته راواړولو.
«بخښنه غواړم، خو زه دلته کشت نه ګورم. آيا له ښاغليو څخه کوم تن زما د پاچا په وړاندې کشت ګوري؟»
موږ په آرامه توګه تختې او بيا ډاکټر ب. ته وکتل. يوه ماشوم هم ليدلای شول چې د چينتوويچ د پاچا خانه په ريښتيا هم د يوه پياده په مرسته د فيل په وړاندې کاملاً پوښل شوې وه، نو په دې توګه د کشت شونتيا موجوده نه وه. موږ ناآرام شولو. آيا زموږ ملګري په خپل تلوار کې يوه دانه غلطې خانې ته خوځولې وه؟ کله چې د ډاکټر ب. پام زموږ چوپتيا راواوښت نو تختې ته ځير شو او په تاوتريخوالي او د ژبې په بندښت يې ووېل :
« خو پاچا بايد په f7 خانه کې وي ... هغه په غلطه خانې کې ولاړ دی. تاسو غلط حرکت کړی دی! په دې تخته کې ټولې دانې غلطې ولاړې دي ... پياده بايد په g5 خانې کې، نه په g4 خانې کې ولاړ وي ... دا يوه بيخي بله لوبه ده ... دا ... » په ناڅاپي توګه يې خبرې بندې شوې. ما په کلکه له مټ ونيولو او يا بهتره ده ووايم چې په کلکه مې يې مټ ته



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

فشار ورکړو چې آن د خپلې تبې په شان ګيچوالي کې يې هم باېد زما لاس اچونه احساس کړي وي. مخ يې راواړولو او داسي يې راته وکتل، لکه چې په خوب کې روان وي.

«څه ... څه رانه غواړئ؟»

ما غير له «ياد ته راولئ!» بل هيڅ څه ونه ويل او په عين وخت کې مې ګوتې د هغه د لاس پر داغ تېرې کړې. په غېرارادي توګه يې زما حرکت تعقيب کړو او سترګي يې د وينو په شان سري کرښي ته ځېرې کړي، له هغې وروسته يې په ناڅاپي توګه ټول بدن په لړزيدو شو.

په بې رنګه شونډو يې په غلي غږ وويل: «د خدای لپاره، آيا ما کومه مزخرفه خبره او يا کار وکړو ... ما بياهم ... ؟»

ما په غلي پسپسي ورته وويل: «نه، خو تاسو باېد دا لوبه سمدلاسه ختمه کړئ. همدا يې وخت دی. په ياد مو دي چې ډاکټر څه درته ويلي و»!

ډاکټر ب. په يوه تند خوځښت له خپل ځايه راپاڅېد شو د چينتوويچ مخي ته يې سر ټيټ کړو او په خپل پخواني مؤدب غږ يې وويل: «د خپلې احمقانه تېروتنې له امله له تاسو څخه بخښنه غواړم. طبعاً، هغه څه چې ما وويل مزخرف دي. څرګنده خبره ده چې په لوبه کې تاسو ګټونکی ياست» له هغې وروسته يې خپل مخ زموږ خواته راواړولو. «له ښاغليو هم بخښنه غواړم. خو ما تاسو ته له مخکې خبرداری درکړی و چې له ما څخه باېد زياته تمه ونلرئ. ما د دې شرموونکي لوبې له امله وبخښئ، دا به زما د شطرنج روستۍ لوبه وي.»

خپل سر يې د درناوي په دود ټيټ کړو او په هماغه عاجزه او له اسرار ډکه توګه لاړو چې راغلی و. يوازې زه پوهېدم چې ولې به دا سړی نور هيڅکله د شطرنج پر تخته لاس ونه وهي، په داسي حال کې چې نور کسان له يوه داسي مبهم احساس سره مغشوش پاتي شول چې له يوه ناراحت کوونکي او ګواښمن حالت څخه په روستۍ شېبه کې ژغورل شوي وو. ميک کانر له غوسي وغومبېدو، «احمق!» روستی سړی چينتوويچ و چې له خپلې څوکۍ راپاڅېد شو او يوځل بيا يې نيم پايه لوبې ته وکتل.

په سخاوتمندانه توګه يې وويل: «حيف، بريد يې دومره بد هم نه و. په حقيقت کې دا ښاغلی د يوه اماتور شطرنج باز په توګه غېرمعمولي استعداد لري».

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ